**بسم الله الرحمان الرحيم**

# د خليفه عزل (گوښه کول)

## (ژباړه)

**عن ام سلمه رضى الله عنها ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال ستكون امراء فتعرفون وتنكرون فمن عرف فقد برئ ومن انكر سلم ولكن من رضى وتابع قالوا: افلانقاتلهم؟ قال لا ما صلوا.**

***ژباړه:*** *له ام سلمه رضي الله عنها څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ډېر ژر به تاسو داسې حاكمان ولرئ، چې هغوی به پېژنئ او بد به يې ګڼئ، نو که چا وپېژندل (او له منکر څخه يې منع کړل)، هغه وژغورل شو او چا چې (په زړه کې) بد وګڼه، هغه سالم پاتې شو؛ افسوس د هغه چا په حال چې راضي شي او پيروي يې وکړي. ويې ويل: ايا له هغوی سره جګړه وکړو؟ ويې فرمايل: نه، تر هغه پورې چې لمونځ کوي (پر صحيح مسلم د نووي شرحه).*

دغه حديث د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وړاندوينې يوه ښکاره معجزه ده، لكه څنګه يې چې فرمايلي وو، همداسې پېښ شول.

مګر د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا خبره « **فمن عرف فقد برئ**» په يو بل روايت كې داسې راغلې ده «**فمن كره فقد برئ**» چې د ظاهر او معنى له مخې دغه مفهوم رسوي، چې كه چېرې دغه حكام بد وګڼي، نو له ګناه او عذاب څخه يې ژغورل كېږي. دا حالت د هغو كسانو لپاره دی، چې په لاس او ژبه د منكر پر وړاندې د مقابلې توان ونه لري، خو په زړه كې يې بد وګڼي.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دغې خبرې « **فمن عرف فقد برئ**» معنا دا ده چې، چا چې منكر وپېژانده او د هغه پيروي يې ونه كړه، نو د هغه منكر له ګناه او عذاب څخه د خلاصـون لاره ورته پرانيســتل كېږي، يعنې داســې چې په لاس او ژبې سره د هغه منكر مخه ونيسي_ او كه چېرې يې توان ونه لري، نو په زړه كې يې بد وګڼي. و الله اعلم.

د رسول الله صلى الله عليه و سلم د دغې خبرې « **ولكن من رضى وتابع** » معنى دا ده چې د منكر عمل عذاب او ګناه د هغو كسانو پر غاړه ده، چې پرې راضي شي او پيروي يې وكړي. دا په حقيقت كې د دې لپاره دليل دی، چې كه چېرې يو څوک د منكر پر وړاندې د مقابلې توان ونه لري، په چوپتيا سره يې هم نه ګنهكارېږي؛ په دې شرط چې له منكر څخه راضي نه وي او پيروي يې ونه كړي، خو په زړه كې يې بد وګڼي.

مګر د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا خبره «**افلانقاتلهم ؟ قال :لا ما صلوا**» په دې معنى ده، چې د خلفاوو د ظلم او فسـق له امله روا نه ده، چې پر وړاندې يې ودرېږو او يوازې هغه مهال يې پر وړاندې وسـله پورت كولی شـو چې د الله تعالى احكام بدل كړي. د رسول الله صلى الله عليه وسلم په دغه حديث كې راځي، چې د خليفه اطاعت

پر امت باند تر هغه وخته واجب دی، چې د الله تعالی احکام تطبیقوي. دلته د لمانځه له یادونې څخه موخه پر اسلام د حکم کولو لپاره کنایه ده. که چېرې خلیفه د شریعت پر احکامو حکم ونه کړي، کافر شي او یا په ښــکاره ډول فسـق ترسره کړي، نو په دې حالت کې پر مسـلمانانو لازمه نه ده چې له هغه څخه اطاعت وکړي، د خلیفه په توګه یې پاتې کېدل روا نه دي او باید ګوښه شي، ځکه د اسلام او عدالت په نامه یې د عقد یو شرط مات کړی دی.

خلیفه تل باید د عقد تړول اووه شرطونه ولري او کله چې یو له دغو شرطونو څخه له منځه لاړ شي، خلیفه باید ګوښـه شي. کله چې خلیفه له داســې حالت سره مخ شي، چې له دغو شرطونو څخه د یوه د له منځه تلو لامل کېږي، نو د لرې کېدو مستحق دی او د لرې کېدو صلاحیت یې له مظالمو محکمې سره دی.

دلیل یې د الله سبحانه وتعالی دغه قول دی:

**« یا ایها الذین آمنوا اطیعوا الله واطیعوا الرسوال و اولی الامر منکم فان تنازعتم فی شیئ فردوه الی الله والرسول ان کنتم تومنون بالله والیوم الاخر ذلک خیر واحسن تاویلا»  (النساء: ۵۹)**

*__ژباړه:__ اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی، د الله تعالی اطاعت وکړئ او د هغه د رسول او اولي الأمر (حاکم) اطاعت وکړئ، که چېرې مو په کومه موضوع کې شخړه راشي، نو هغه (د پرېکړې لپاره) الله او رسول ته وروګرځوئ، که چېرې تاسو پر الله او د اخرت پر ورځ ایمان لرئ، دا ستاسو لپاره غوره او پای یې ډېره ښه ده.*

همدارنګه په پورته آیت کې یادونه شـوې، چې د مسـلمانانو او خلیفه تر منځ شـخړه باید د الله د دین په واسـطه حل شي. د الله له دین څخه هدف قاضـی دی او کله چې له ظالم حاکم سره شـخړه رامنځته شي، نو ګوښـه کېدل یې واجب دي.

د مظالمو محکمه د ظالمانو پر ګوښه کولو باندې حکم کوي او دا صلاحیت یوازې د هغې له قاضي سره دی. کله چې خلیفه د عقد یو شرط ونه لري، نو ګوښــه کول یې لازم دي. لومړی باید د خلیفه حالت ثابت شي او دا ثابتول او ګوښه کول هم یوازې د مظالم محکمې صلاحیت دی.